ځمکه او دا دومره کاينات چې په فضا (آسمان) کې شتون لري ستارې کهکشانونه سياه چالې او په ميلياردو سيارې  دا له کومه شو وي او له کومه منځ ته راغلي نو تبآ د انسان ذهن کې سوالونه راپيدا کيږي.  چې کله ماشوم وم نو دا فکر به مې کو چې اسمان ډېر نژدې ده د غره په سر چې ودرېږې شايد لاس مو ورته ورسي خو په رالوېدو دا فکر مو اشتباه وه کله نه چې مکتب ته ولاړم نو هلته به په کتاب کې يو نر غويا وو د دو ښکرو په منځ کې  به يې ګرده د توب په شکل چې ځمکه يې نومه وله ايښودل شوې وه دا به هم اضافه وه چې کله د غويا په کوم ځای مچ يا کوم ځای يې  خارخ وکړي نو سر وخوره وي همدا ده چې زلزله منځ ته راځي تر ډېره وخته په همدغه متنو عنوانو باندې غلطېدلو ماته تل دا سوال ذهن ته راتلو په فضا (اسمان) کې به څه وي موږ ولې پيدا شوي يو دا ونې بوټي په قسما قسم  حيوانات نباتات دا څنګه منځ ته راځي او  راغلي؟

د دې سوالونو په ځواب کې ديني او علمي نظرو ته مراجعه کو پرې ځان پوهه وو.

**١ د قران کريم نظريه :** الله ج په ٣٠ ايه کې د انبيا سورت کې  فرمايي ځمکه او اسمان مو پيوسته (يوځی) راپيدا کړل  خو وروسته مو سره جلا کړل.

دلته علما وايي چې مطلب دا ده چې الله ج ورېځې راپيدا کړې له ورېځو يې باران راپيدا کړو او ځمکه کې بوټي راپيدا کړل او طبعيت منځته راغلو.

امام غزالي رح وايي : الله ج تر ټولو شيانو له مخه يوه ملغلره پيدا کړه بيا الله ج ورته د غضب په سترګه ورته وکتل هغه ملغلره ويلې سوه د الله ج له وېرې څخه په لړزه سوه اوبه ځيني جوړې شوې بيا الله ج د رحمت په سترګه ورته وکتل نيم يخ او کلک سو الله ج د هغه څخه عرش عظيم پيدا کړو بيا عرش په ښورېدو سو الله ج پخپل قدرت دا کلمه پرې وليکله لا اله الا الله محمد رسول الله عرش عظيم آرام سو او هغه نيمي اوبه هغسې ويلې پاتې شوې تر قيامته پورې به موجونه او څپې وهي الله ج په دې هکله فرمايي:

و کان عرشه على الماء (هود٧)

Ketabton.com

حال دا چې وو عرش د [illegible] اوبو باندې، بيا چې هغه وبې پر ښورېدو [illegible] چې يې [illegible] زګونه يې وکړه د ورېځو په شان دودنه ځيني پورته سو  طبق پر طبق سره پورته سو بيا الله ج د دغه دودنو څخه آسمانونه او ځمکې پيدا کړې سره نښتي وه بيا الله ج د ځمکو او آسمانون تر منځ بادونه راپيدا کړل چې د هغو په سبب آسمانونه او ځمکې سره بېلې سوې  الله ج فرمايي:

ثم استوى الى السماء وهى دخان (حم سجده ١١)

بيا يې اراده وکړه د پيدا کولو د آسمان حال دا چې دغه آسمان يو د دود اجزا يو له بله سره نښتي وې او پر لوړ ځای درېږي او د بخار څخه يې ځمکه پيدا نه کړه چې بخار ببرته راښکته کيږي دا د الله ج د بشپړ علم او حکمت پايله وه

(امام غزالي، ١٥١پانه، مکاشفه القلوب ، پښتو ژباړه حجه الا سلام حضرت امام غزالی رح)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ علمي نظريه :** په علمي نظريو کې يوه ډېره مهمه نظريه هغه نو بيا د علم په اساس اخترشناسان وايي چې يوه ډېره وړه ماده چې انفجار کوي او نوري نوري کيلو متره فاصله کې مواد له ځانه شيندي ۱۳،۸ ميليارده کاله مخکې ټول هغه څه چې فضا کې ول يواځې انرژي و وروسته له ۳۰۰ زره کاله وروسته انرژي سړه کېږي هايدروجن او هيليوم منځته راوړي په دا مرحله کې جهان ټول د يو ورېځې په شکل وي جهان صرف يو د ګازو ورېځه وي د جهان په اوږدېدو هغه شتوني مادي شروع په لرې والي کوي دلته جهان بيا نو په يو صحابي بدلېږي. يعني هغه ورېځه چې د هايدروجن هيلوم او ګرد غبار نه جوړه شوې وه ځيني برخې دومره سره ېيچلې وې چې دلته نو بيا اول نسل ستارې منځته راځي خالص د هايدروجن نه جوړه شوې وې له ډېرو کلونو وروسته همدا هايدروجني ستارو د هايدروجن په مصرفولو له يو بله لرې والی شروع کوي او انفجارکوي نو دلته نور عناصر کلونه ورسته شکل ګيري شروع کوي بيا دوم نسل ستارې منځته راځي اول نسل ستارې چې د خالصه د هايدروجن نه شکل ګيري شوې وې دوم نسل ستارې په همدې شکل انفجار کوي هره ستاره چې منځته راځي له پېچده او مغلقو عناصرو سره يوځي کېږي بيا انفجار کوي.

همدا وي چې د راهی شيري کهکشان منځته راځي په همدا شکل لمر چې د دريېم نسل ستاره ورته ويلی شو شکل ګيري کېږي کله چې د نويو ستارې شکل نيسي نوعناصر يې هم مغلقه کېږي مختلف شکله صحابي هم راپيدا کېږي مخکې له دې چې يوه ستاره په ختمېدو شي په هسته کې موجوده اتومونه لرې والی کوي په همدې نتيجه کې نور مغلقه عناصر منځته راوړي د همدې کار په ادامه نو ډېره انرژي هم آزادېږي لوې ستارې راپيدا کوي او همدا باعث کېږي ډېره انرژي آزده کړي همدا لويو ستارې درانده عناصر راپيدا کوي همدا وي چې اهن منځته راځي کله چې اهن جوړ شي هر څه متفاوته کېږي د آهن اتومونه ډېر لوې وي کله چې انفجار کوي نو ډېر خطرناکه وي چې ورته ابر نوختر يا سوپر نوا ورته ويل کېږي بيا عناصري مادي فضا کې پراګنده کېږي کله چې يوه ستاره انفجار کوي نو پارچه پارچه کېږي په فضا کې تيتيګي هغه بيا د ابر نوختر صحابي ويل کېږي.

دا علم په اساس نظريه وه چې اخترشناسانو پرې کلونه کلونه کار کړی.

**منظومه شمسي او ځمکه څنګه منځته راغلل:**

په اول وار امانول سويډنبرګ په ۱۷۳۴ ميلادي کال کې نظريه ورکړه وروسته له نومړي امانول کينټ ۱۷۵۵ ميلادي کې ده وويل چې منظومه يې شمسي ۴،۶ مليارده کاله مخکې د يو ماليکولي ورېځې په نتيجه کې رامنځته شوې ده تصور کېږي چې د دغه ورېځې عرض څو ميلونه کاله نوري وه چې په نتيجه کې څو ستارې رامنځته کړې د همدو ستارو د انفجار په صورت کې منظومه يې شمسي شکل يې ونيوه

لمر مو مخکې هم وويل چې د دريېم نسل ستارو څخه ده چې په څو ابر نوخترو کې شکل ګيري شوې ده له هغه صحابيو ګانو چې ګاز ګرد او غبار راپاتې و سيارې راپيدا شوې

منظومه شمسي ډېره ګرمه ده اجازه نه ورکوي د فرار ماليکولونه لکه اوبو او ميتان متراکمه شي. ځمکه اولو سرو کې ډېره ګرمه وه چې ټوله له اوره پوښلې وه بيا پرې د تيګو باران وشو چې ويل کېږي چې په همدغو تيګو کې اوبه موجود وې او اوبه يې د ځمکې په سر راپيدا کړې ځمکه دومره په سرعت چرخېګي چې يو شپه ۶ ساعته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه د میلونونو شهابي تيګو په نتيجه کې منځته راغلي ده کله چې د دغو تيګو په نتيجه کې ځمکه راپيدا شوه نو ډېره ګرمه وه سر تا سره اور وه د ځمکې سرعت ويل کېږي چې دومره زياد وو يوه ورځ صرف شپږ ساعته وه د ځمکې په سر په هر ځای کې اتشفشان شتون لره شو خوا يې ګرد غبار او ګازو نيولی وه يوه عظيمه سياره چې له ځمکې سره ټکر کوي داسې ټکر چې يو صنده يې ورسره لرېږي يوه وړه ضربه ورکوي د همدې ضربې په صورت کې د ګرد او تيګو شدت هم زياتېږي په فضا د کې د جاذبې په صورت کې سپوږمۍ منځته راوړي چې ورته د ځمکې قمر وايو ميلونونه کاله وروسته ځمکه مخ په سړېدو کېږي او يوه ورځ صرف اته ساعته کېږي د ځمکې سرعن مخ په کمېدو وي ميلونونه کاله وروسته بيا چې کله ځمکه سړه کېږي د تيګو باران بيا شروع کوي دغه د يوې تکه تکه شوې ستارې تيګې وي په منظومه شمسي کې صرف دغه تيګې په ځمکې راولېګې ويل کېږي چې دغو شهابي تيګو کې اوبه شتون درلودې وروسته له لس ميلونو کاله ورسته د تيګو باران ورکېږي خو اوبو ټوله د ځمکې سطحه نيولې اقيانوسونه منځته راځي د ځمکې سرعت نور هم کمېږي يوه ورځ صرف لس ساعتو ته رسي خو تر اوڅه لا ځمکه جوړه نده د انسان د حيات لپاره وروسته له کلونو هغه اتشفشانونه چې د ځمکې هستې ته يې نفوس کړی انفجار کوي په دغه انفجار سره کاربوندکسايد په هوا کې جوړوي اتشفشانونه له سيند حرکت کوي په همدې شکل قاري منځته راوړي اسمان ټول له کاربوندکسايده وي چې باران له اسمانه شروع کوي اسيدي باران تيګې کاربون دی اوکسيد ځانته جذبوي د لمر وړانګې هغه کاربون دی اوکسيد چې په هوا کې شتون لري زياتې ځمکې ته راشي همدا د ځمکې يخچالي يخونه دي چې ځمکه يې سړه ساتلې.

**ماخذونه:**

**۱: بام دنيا، يوتيوب**

**۲:غزالي، امام، حجه الاسلام حضرت امام غزالي رحمه رح**

**۳: پژو، فارسي انترنيتي سايټ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**

**Ketabton.com: The Digital Library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**